

# د افغانستان په مرکز کې د جګړي او سولې سیمه ییز لاملونه:

## د سولې لپاره د سیمه ییزي غونډې موندني




جولای ۲۰۲۱

**د سولې په لور** د فرډریش ایبرټ بنسټ (SEF)، د افغانستان د عامه څېړنو موسسې (ORPPA) او میډیوټیک د افغانستان د پراختیا او سولې سازمان (OPDAM) ګډه پروژه ده.

دغه پروژه په اوو ولایتونو؛ کندهار، هرات، بلخ، بدخشان، بامیان، ننګرهار او کابل کې د سولې فرصتونو او پر وړاندې یې شته محلي خنډونو په اړه د نظر د منظمې راکړه ورکړې اسانه کولو لپاره ډیزاین شوې ده.

دغه پروژه د سولې لپاره سیمه ییزې غونډې جوړوي ترڅو افغانان «چیرې چې میشت دي» د خبرو اترو، نظر راکړه ورکړې او فعالیتونو له لارې د شخړو هوارولو په برخه کې ونډه واخلي. په پایله کې، دغه پیښې د سولې لپاره د یوه ګډ لیدلوري رامنځته کولو په موخه د ټولنې په کچه د یوه فعال مشارکت هڅونه کوي. تصویري رسنیزې خپرونې او تولیدات مرسته کوي چې ملي، محلي او نړیوال ګټه اخیستونکي په دې اړه خبر شي او په راتلونکې کې د ګډون لپاره سپارښتنې وړاندې کړي.

دغه لنډیز د لیکوالانو، لوسیل مارتین، سعید پرتو او مارتا لګراند، له خوا د فرډریش ایبرټ بنسټ (SEF)، د افغانستان د عامه څېړنو موسسې (ORPPA) او میډیوټیک د افغانستان د پراختیا او سولې سازمان (OPDAM) ترمنځ د همکاریو د یوې برخې په توګه چمتو شوی دی.

د ۲۰۲۱ کال د جون په نهمه نیټه، د سولې لپاره یوه سیمیزه ناسته بامیانو کې ترسره شوه چې د دوایکندي، میدان وردګ او پروان ولایتونو د مدني ټولنې استازو او سیمیزو چارواکو پکې ګډون کړی وه. لاندې د هر ولایت د دیموګرافیک، جغرافیایي، اقتصادي او د شخړو اړونده اجزاو په اړه عمومي معلومات چمتوشوي دي وروسته د ناستې د بهیر په اړه معلومات وړکړل شوي دي. د دغه سند په پای کې، د ناستې او بحث څخه تر لاسه شویو پایلو په اړه لنډ معلومات وړکړل شوي دي.

**شالید**

له تاریخي اړخه د بامیان او دایکندي ولایتونه او همدارنګه د میدان وردګ او پروان ولایتونو ځینې برخې د هزاراجات برخې دي چې په لویدیځ کې تر غور او همدارنګه تر غزني او اروزګان ولایتونو غزیدلي دي.

پورته ځلور یاد شوي ولایتونه نږدې په ټولیزه توګه کلیوال دي (لومړی او دویم شکل). ددې ولایتونو ډیر وګړي (نفوس) خپل معیشت په مالداری او کرهنې په مخ وړي او ځینې شتمن یې بیا د کرهنیزو حاصلاتو سوداګري کوي. د پروان ولایت چې د سالنګ له لارې کابل ښار سره نښلول شوی دی، د کابل ښار لپاره د کرهنیزو تولیداتو مهم او کلیدي عرضه کوونکي دی. په بامیان ولایت کې داخلي ګرځندوی یا سیاحت هم د معیشت یوه بدیله چاره را منځ ته کړې ده. په دایکندي ولایت کې کانونه د کارموندنې یوه بله سرچینه ده، دغه ولایت له کانونو څخه غني دی او همدارنګه میدان وردګ او پروان هم د کرومیټ زیرمې لري چې خلک یې په دندو بوخت کړي دي (Basharat, 3 September 2017, Ghafari, 3 February 2014; Byrd and Noorani, 2017).

په دغه ولایتونو کې د بیوزلې کچه تر ټولو لوړه ده، په دوایکندي او میدان وردګ ولایتونو کې ۶۷ سلنه ده چې بیا په بامیانو کې ۵۹ سلنه ده. په دغه سیمې کې پروان یواځینی ولایت دی چې د بیوزلۍ د ملي کچې ۵۲ سلنې څخه یې د بیوزلۍ کچه ۴۲ سلنه ټیټه ده (UNDP ۲۰۲۰).

د دې ولایتونو له ډلې په مرکزي لوړو کې د بامیانو او دایکندی ولایتونه پچې له ۹۰ سلنې څخه ډیرې سیمې یې غرونه، وچې ځمکو له ځنګلو خالي سیمو پوښلي دي، د دغو ه ولایتونو په منځ کې دي چې د اقلیم بدلون په وړاندې ډیر زیانمنونکي او حساس دي (UNEP ۲۰۱۶). په وروستیو کلونو کې دوامداره وچکالۍ ددې لامل شوي دي چې د کلیوال میشت خلکو د ژوند په معیشت کې ډراماتیک بدلون را منځ ته شي.

**لومړی شکل: د وګړو اټکل (2020)**

| ولایت | ټولیز | ښاري | کلیوال |
|---|---|---|---|
| بامیان | ۴۹۵,۵۵۷ | ۱٤,٤٧٢ | ٤٨٠,٨١٥ |
| دایکندي | ٥١٦,٥٠٤ | ٠ | ٥١٦,٥٠٤ |
| پروان | ٧٣٧,٧٠٠ | ٦٧,٩٦٠ | ٦٦٩,٧٤٠ |
| میدان وردګ | ٣٢٣,١٨٧ | ١,٨٠٢ | ٣٢١,٣٣٥ |

سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره (2021)

**دویم شکل: د ښاري او کلیوالي وګړو شمیره**




د احصاییې او معلوماتو د ملي ادارې د معلوماتو په بنسټ (2021)

د امنیت لـه پلـوه، بامیـان، دایکنـدي او پـروان ولایتونـه پـه پرتلیـزه توګـه پـه تېـرو کلونـو کې امـن وه، او پـه شـپږو هغـه ولایتونـو کـې راځـي چـې د ملکـي وګـړو مړینـه پـه ۲۰۲۰ کې پکـې تـر ټولـو کمـه راپـور شـوې ده (UNAMA 2021). لـه دې سره سره، د کابل- بامیان لویـه لاره چـې د غوربنـد لـه سیمې څخـه تیریـږي، پـه پروان کـې پـه دې وروسـتیو کلونـو کـې پـه دوامـداره توګـه د وسـلوالو مخالفـو ډلـو لـه لـوري د سـړک د بندښـت، کلـه نـا کلـه د ملکـي وګـړو د تښـتونې او وژنـې شـاهده وه چـې لـه امله یـې ولایـت تـه خونـدي لاس رسـی اغیزمـن کـړی دی. د بامیانـو ولایـت پـه کهمـرد او شـیبر ولسـوالي کـې ځینـې نښـتې شـوې دي او همدارنګـه د دایکنـدي پـه پـا تـو او کجـران ولسـوالیو کـې د وسـله والـو مخالفـو ډلـو د فعالیتونـو لـه املـه پـه ۲۰۱۹ کې ناامني را منځ تـه شـوې ده(NSAG) (OCHA, September 15, 2019).

بامیان او دایکندي ولایتونو کې د څړځایونو او اوبو په سر د کوچیانو او سیمیزو کروندګرو تـر منځ د کلونو راهیسې جګړې او شخړې را منځ تـه کیږي. لـه ۲۰۰۱ میلادي کال راهیسې، دغـه موضـوع د یـوې مهمـې سـیاسي پروپاګنـدې او توکمیـز تاوتریخوالي لامل شـوې دی (;Giustozzi, 2017 Foschini, 2013).

د هندوکـش د غرونـو د لویدیځـو څنډو پـه پـاې کـې پـه مرکـزي لـوړو سـیمو کـې پـروت د **بامیـان** ولایـت ۹۰ سـلنه مسـاحت یـې غرنـۍ یـا نیمـه غرنـۍ دې. پـه لویدیـځ کـې لـه غـور، پـه شـمال لویدیـځ کـې سرپـل، پـه شـمال کـې سـمنګان، پـه ختیـځ کـې بغـلان، پـروان او میـدان وردګ، سـویل کـې دایکنـدي او غزنـي ولایتونـو سره پولـه لـري. د ولایـت ډیـری وګـړي نـږدې ۹۸ سـلنه یـې شـیعه هـزاره دي او پـه دري ژبـه خـبرې کـوي (UNFPA, 2005).

د بامیانـو ولایـت ډیره سـاحه وچـه او غیرې کرهنیزه ده چې د هیـواد پـه کچـه یـو لـه هغـه ولایتـو څخـه دې چې کرهنیز حاصلات پکـې تـر ټولـو ټیـټ دي- دغـه سـتونزې نـوري هـم لـه دې املـه جـدي شـوې دې چـې د ځمکـو د ملکیـت پـه سر سـیالي کیـږي او د طبیعي سرچینـو مدیریـت ناسـم تـرسره کیـږي (Afghanistan, 2019a, UNEP, 2016).

پداسـې حـال کـې چـې ویـل کیـږي د ولایـت امنیتـي وضعیـت پـه عمومـي ډول ښـه ګڼـل کیـږي ، خـو د جګـړو لـه املـه د ملکـي وګـړو مـرګ ژوبلـه پـه ۲۰۲۰ کال کـې ۱۸۲۰٪ د تیـر کال پـه پرتلـه پـه بـې سـاري توګـه پـه لـوړه شـوې ده (UNAMA ۲۰۲۱). د ۲۰۲۰ کال د جولاې پـه میاشـت کـې د رغنیـزو چـارو کارکونکـې د طالبانـو لـه لـوري د تښـتول کیـدو راپورونـه هـم ورکـړل شـوي دي، او د ۲۰۲۰ کال د نوامبر پـه ۲۴، د بامیـان ښـار پـه مرکـز کـې پـه یـو مارکیـټ کـې د یـو ځـاې پـر ځـاې شـوي چاودیدونکـي بـم بریـد وشـو چـې لـه املـه یـې ۱۸ تنـه مـړه او ۶۰ نـور ټپیـان شـول (UNAMA ۲۰۲۱).

د بامیانـو ولایـت پـه سـویل کـې، **دایکنـدي** ولایـت پـروت دی چې شـمال ختیـځ تـه یې بامیـان، شـمال لویدیـځ تـه یې غـور، ختیـځ تـه یې غزنـي او سـویل لویدیـځ تـه یې هلمند او سـویل تـه یـې ارزګان ولایتونـه پراتـه دي. دایکنـدي ولایـت پـه ټولیـزه توګـه یـو غرنـۍ ولایـت دې او د خرابـې هـوا لـه املـه پـه ژمـي کـې ورتـه لاس رسـی سـتونزمن دې، همدارنګـه د دغـه ولایـت زیربنـاوې کافي نـه دي چـې لـه املـه یې ډیـرو سـیمو تـه لاس رسـی سـتونزمن دي (افغانسـتان، FSC، ۲۰۱۸). دا ولایـت د هیـواد لـه هغـه ولایتونـو څخـه دي چـې د عایـد لـه پلـوه تـر ټولـو لـږ عایـد لرونکـې دې (NSIA, 2019).

په هغو ولسواليوکې چې د هلمند سره شريکې پولې لري د افغانستان امنيتي دفاعي ځواکونو او د نا دولتي مخالفو ډلو تر منځ د جګړو راپورونه ورکړل شوي دي، او همدارنګه د سيمې وګړو انديښنه څرګنده کړې ده چې ددې شونتيا شته چې د داعش وسلوال هم له ګاونډيو ولايتونو څخه ډايکندي ته داخل شي (OCHA, 15 September 2019) .

همدارنګه د سياسي ډلو او د سيميزو وسلوالو ډلو تر منځ اړيکې ددې لامل شوې دې چې د ډايکندي ولايت کې امنيت خراب شي (Pajhwok, 2019).

په ۲۰۲۰ کال کې د جګړو له امله د ۷۰ تنه ملکي وګړو د مرګ ژوبلې راپور ورکړل شوي دې، سره له دې چې دا شميره د هيواد د نورو ولايتونو په پرتله ډيره ټيټه ده (UNAMA 2021).

**پروان** ولايت، په شمال کې له بغلان، په لويديځ کې باميان، په سويل کې ميدان وردګ، په ختيځ کې پنجشير او کاپيسا او په سويل ختيځ کې د کابل ولايت سره شريکه پوله لري. دغه ولايت د سالنګ د لارې په اوږدو کې چې د هيواد د شمال د سوداګرۍ مهمه لاره ده، پروت دې. دغه لاره په چاريکار کې د پنجشير او په جبل السراج کې باميانو ته هم غزيدلې ده. ددې ولايت ۷۰ سلنه اوسيدونکو درې او نږدې ۳۰ سلنه يې پښتو خبرې کوي، د پروان اوسيدونکې سنې، شيعه او اسماعيليه مسلمانان دي (MRRD, 2020; UNFPA 2005).

پروان ولايت په عمومي ډول غرنۍ او نيمه غرنۍ ولايت دې. هوا او توپو ګرافي يې، د باميان او ډايکندي په پرتله تر ډيرې کچې کرهنيې ته برابره ده. د غوربند او پنجشير ولايت د سيندونو څخه بهيدونکې اوبه او طبيعي چينې د کرهنيزو ځمکو د خړوبولوسرچينې تشکيلوي او بيلابيل کرهنيز توليدات لري چې د خپلو اړتياو پوره کولو سربيره، کرهنيز توليدات د کابل بازارونو او د هيواد نورو ولايتونو ته استوې.

پداسې حال کې چې په عمومي او پرتليزه توګه امنيتي وضعيت ټيکاو لرونکې ګڼل کيږي، په ۲۰۱۹ ميلادي کال کې د تاوتريخوالي کچه لوړه شوې ده، طالبانو د ښوونځيو ښوونکي يې تښتولي، ښوونځي يې تړلي دي او د ملکي وګړو مرګ ژوبله د ۲۰۱۸ کال په پرتله د ځان مرګي بريدونو، ځمکنې جګړو او د کورونو د پلټنو له امله ۵۰۰ سلنه لوړه شوې ده (UNAMA, 2019). د غوربند وادي چې له تاريخي اړخه د جمعيت اسلامي او حزب اسلامي د سياليو ډګر وه، د مخالفينو د فعاليت په مهم مرکز بانديې بدل شوې دي (Ruttig، ۲۰۱۱). دوه لويديځې ولسوالۍ چې په دغه وادې کې پرتې دي د ۲۰۲۱ کال د جون په مياشت کې د طالبانو د کنترول لاندې راغلي، او يوې بلې باندې جګړه روانه ده (Roggio ۲۰۲۱).. د بشري حقونو د څار اداري په وينا په ۲۰۱۹ کال کې په پروان ولايت کې يو نيمه نظامي واحد د افغانستان د ملي امنيت چې د سي اي ای يا د متحده ايالاتو د مرکزی استخباراتي اداري لپاره مخفي عمليات ترسره کول، د بشري حقونو جدي سرغړونې کړي دي.

**وردګ** ولايت چې د ميدان وردګ ولايت په نوم هم پيژندل کيږي، په شمال لويديځ کې د باميانو، په شمال ختيځ کې د پروان، په ختيځ کې دکابل او لوګر او په سويل کې د غزنې ولايت سره شريکه پوله لري. ددې ولايت اوسيدونکي سنې او شيعه مسلمانان دي چې يو شمير يې هزاره شيعه هم دي.

د ميدان وردګ ولايت نږدې ټول اوسيدونکې کليوال ژوند لري، او د ولايت نيمايي مساحت يې غرونو پوښلې دې. د وګړو ډير شمير يې د کابل-کندهار د عمومي سړک په غاړه ميشت دي، دغه سړک د هيواد د سوداګرۍ يوه مهمه لاره ده چې له شمال ختيځ څخه سويل ته غزيدلې ده (Goodhand and Hakimi, 2014).

د ميدان وردګ ولايت اوسيدونکو د عوايدو توليدونکې فعاليتونه ورځنې کارونه او سوداګريزې کرهنې، مالداري او غير کرهنيزې مزدورې دي. په دې ولايت کې همدارنګه د کانونو زيرمې شته چې تر اوسه پلټل شوې نه دي، او داسې راپورونه ورکړل شوي دي چې په غيرې قانوني توګه د سرو زرو کيندنه ترسره کيږي (Goodhand and Hakimi, 2014; UNDP, 2020).

د جګړو لـه املـه د میشـتو وګـړو کرهنیـزه اقتصـاد اغیزمـن شـوی دی، او ډیـر ځلـې د افغانسـتان مـلي امنیتـي ځواکونـو او طالبانـو د جګـړو پـه منـځ کـې ګـیر پاتـې کیـږي، او کلـه نـا کلـه د افغانسـتان مـلي امنیتـي ځواکونـو لـه لـوري دیتـه اړ کیـږي چـې لـه خپلـو کرهنیـزو ځمکـو لاړ شي (Qazizai, 2019).

د ولایـت مرکـز چـې میـدان ښـار نومیـږي د کابـل پـه ۴۰ کیلـو مـتري سـویل لویدیـځ کـې د کابل-کندهـار پـه لویـه لار پـروت دی، دغـه ولایـت یـې پـه استراتیژیک ولایـت بـدل کـړی چـې لـه املـه یـې شـمال لـه سـویل سره تـړي او د ولایتـی سرک لـه لاری چـې بامیانـو تـه ځـي لـه ختیـځ لـه لویدیـځ سره تـړي.

پـه میـدان وردګ ولایـت کـې جګـړې ډیـرې زیاتـې دي، چـې د افغانسـتان مـلي امنیتـي ځواکونـو او طالبانـو تـر منـځ وخـت نـا وخـت جګـړې کیـږي- او لـه املـه یـې ملکـي وګـړو تـه مـرګ ژوبلـه اوړي او بـې ځایـه کیـږي (Osman, 2019; UNSG, 2020; UNAMA, 2021).

د ۲۰۲۱ کال د جـون د میاشـتې تـر ۲۶ نیټـې پـورې، د میـدان ښـار پرتـه د ټولـو ولسـوالیو کنټـرول د طالبانـو پـه لاس کـې دی (Roggio, 2021).

## د بامیـان ولایـت د سـولې ناسـته: د ناسـتې بهیـر تـه یـوه ځغلنـده کتنـه

د بامیانـو پـه ولایـت کـې د سـولې پـه سیمیزه ناسـتې کـې ۸۵ تنـو (۵۱ نرانـو او ۳۴ ښـځو) چـې د ۲۰۲۱ کال د جـون په نهمه ترسره شوې وه، ګـډون کـړی وه. ګـډون کوونکـي د ولایـت د بیلابیلـو ډلـو او کچـو څخـه چـې حکومتـي چارواکـي، د مدنـي ټولنـو فعالیـن، دینـي عالمـان، سـیمیز مـشران، د جګـړو د قربانیانـو اسـتازي او معلولیـت لرونکـي وګـړي، خصوصـي سـکټور، د ځوانـانـو ډلـو او د پوهنتونونـو محصلیـن پـه کـې شـامل وه، دې ناسـتې تـه بلـل شـوي وه.



FES، MADPO، APPRO/ جلیل پویا /

پـه هـره ناسـتې کـې ګـډون کوونکـو تـه دنـده ورکـول کیـږي چـې پـه خپلـو ټولنـو کـې هغـه مهمـې سـتونزې چـې د جګـړو د وضعیـت او اغیـز د بدلـون لامـل کیـږي، پـه ګوتـه کـړي او بیـا پـه ګـروپ کـې پـرې بحـث وکـړي. پـه هـر ګـروپ کـې، ګـډون کوونکـو د هـرې سـتونزې لاملونـه پـه ګوتـه کـړل ، او بیـا د دغـه لاملونـو د حـل د لارې چـارې پـه اړه بحـث کـوي، څـو داسـې شرایـط برابـر شـي چـې اوږدمهالـه سـوله را منـځ تـه شي.

د ډلـه ایـز بحـث پایـلې د یـو هئیـت لـه طریقـه بیـا د ټـلـورو غـړو څخـه جـوړ د پینـل ګډونوالـو او نـورو تـه وړانـدې کیـږي. د بامیانـو پـه ولایـت کـې د پینـل د بحـث غـړي د بامیـان ولایـت د ولایتـي شـورا یـو تـن غـړی، د میـدان وردګ ولایـت د پوهنـې ریاسـت اسـتازی، د بامیـان د مدنـي ټولنـې یـو تـن غـړی او د سـولې یـو تـن فعـال شـامل وه.

د سیمیزې سـولې ناسـتې یـو بـل عنـصر د ګـډون کوونکـو تـر منـځ ازاد بحـث وه چـې ګډونکونکـي د سـولې او د مذاکراتـو لـه لارې د افغانسـتان اسـلامي جمهوریـت او د طالبانـو تـر منـځ د مذاکراتـو د سـیاسي حـل پـه اړه خپلـې هیلـې او توقعـات شریـک کـړي.

## د سولې په اړه د ګډونکونکو هیلې او توقعات

د بامیانـو ولایـت د سـولې پـه ناسـتې کـې ګډونکونکـو هیلـې ځرګنـدې کـړې چـې پـه مذاکراتـو کـې بـه داسـې یـوې هوکـړې تـه ورسـیږي چـې پـه پایلـه کـې بـه یـې تاوتریخوالـی کـم شي او یـو موقـت حکومـت بـه را منـځ تـه شي او د ټولټاکنـو لپـاره بـه لاره هـواره شي او د حکومتـوالي چـارو کـې بـه اصلاحـات را منـځ تـه شي. دوې همدارنګـه د جګـړې

د پاې هیله څرګنده کړې ده- که چیرې داسې وشي-دوې به پراختیایي کارونو ملاتړ وکړي او داسې فرصتونه به برابر کړي چې د هیواد زیربناوې او جوړوښتونه به بیا ورغول شي.

سربیره پر دې، ګډونکونکي تمه لري چې دغه لاس ته راوړنې به هغه مهال پوره شي کله چې د مدني او سیاسي حقونو ځانګړي شرایط چې د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون کې شامل دي خوندي وساتل شي او په هغه حالت کې چې تړونونه د دوه مذاکراتي ډلو ترمنځ د واک شریکولو لامل شي.

که چیرې دغه شرایط پوره نشي، او په حکومت کې طالبان ډیر اغیز ولري او یا یې بشپړ کنټرول کړي، نو ګډونکونکو اندیښنه وښوده چې دا کار به ددې لامل شي چې اوسني جوړښتونه له منځه لاړ شي، په ټولنو کې د نرانو واک به ډیر شي، د سیاسي او ټولنیزو چارو څخه به ښځې بې برخې شي، لږکي به له نظره وغورځول شي او رسنۍ به بندې شي. دوې همدارنګه داسې وړاندوینه وکړه چې د مدنې ټولنو ادارو چې د ۲۰۰۱ کال راهیسې د لویدیځو تمویل کوونکو په مرسته یې فعالیت کاوه، ډیر کمزورې شي او نړیوالې مرستې به کمې شي.

ګډونکونکو په ځانګړې توګه اندیښنه څرګنده کړه چې د ((حقوقو)) او ((حکومتوالۍ)) د سیالۍ له امله هغه معیارې حقوق چې له ۲۰۰۱ کال راهیسې په افغانستان کې دود شوې وه، د پښو لاندې شي. ځینو په دې اړه جدي شک وښوده چې طالبان دې کوم ډول مصلحت څخه کار واخلي، او ډیرو ګډونکونکو نه غوښتل چې له طالبانو سره په ګډه کار وکړي. یو تن هئیت یا پینلیست وویل:

*مونږ ته ویل شوې دي چې د نن او پرون طالبان توپیر لري. خو له بده مرغه دا خبره مونږ ته رښتیا نه ده ثابته شوې. [....] زه داډمن یم چې د افغانستان وګړي هغه وګړي نه دي چې شل کاله وړاندې وه. د تیرو برعکس، ځوانان په مدني ټولنې، رسنۍ کې ونډه لري او د خپلو ټولنو د ستونزو په اړه غږ اوچتوي، د حکومت د چارو څخه څارنه کوي. د راتلونکي حکومت جوړښت چې هر ډول وي، د ځوانانو دغه ونډه باید تر وا نخیستل شي. - لومړنۍ ښځینه پینلیسته، سیمه‌ییزه حکومتوالي*

په پایله کې، د جګړې توکمیز کیدو او د سني او شیعه تر منځ د لیرې والي په اړه جدي او د خطر زنګ اندیښنې څرګندې شوې.

## د جګړې سیمه ییز لاملونه

د بامیان ولایت د سولې په سیمه ییزه ناستې کې ګډونکونکو د جګړې څلور عمده لاملونه په ګوته کړل:

- د قانون د حاکمیت نشتون
- توکمیز، ژبني او مذهبي لیرې والې او تضاد
- کمزورې اقتصاد
- د هیواد په بیلابیلو سیمو کې د سرچینو نا انډوله ویش



جلیل پویا/ ORPPA ,OPDAM ,SEF

### لومړۍ ستونزه: د قانون حاکمیت نشتون

ګډونوالو د جګړې د تقاطع او د قانون حاکمیت پورې اړوند دوه اړوند مسایل راپورته کړل.. لومړی دا چه د قانون حاکمیت د نشتون له امله ځواکمن کسان د هر ډول معافیت څخه برخمن دي او د جګړې له اقتصاد څخه ګټې ترلاسه کوي. او دوهم دا چه د وړتیا نشتون او د فساد د شتون له امله د هیواد اتباع نشي کولای د خپلو حقونو غوښتنه وکړي. فساد ددې لامل شوې دې چې کارونه په سمه توګه ترسره نشي او په حکومت باندې د خلکو باور کمزورې کړي، او د لږکیو او نورو اتباعو تر منځ د اړیکو د نورې ناانډولې لامل شي.

د ډلو غړو د اداري او قضايي سيستم ژورې بياکتنې غوښتنه وکړه او ويې ويل چې د فساد ضد مقرراتو پلي کول بايد په کاغذ نه وي بلکې په عمل کې وي.

د يادونې وړ ده، چې يواځې دغه قواعد به بسنه ونه کړي -تر څو چې د عامه خدمتونو تر لاسه کوونکي- د هيواد وګړي او حکومتي مامورين- دا مسؤليت په غاړه وانخلي چې د فساد سره به مبارزه کوي، او هغه وګړو غندنه به کوي چې تخطی او فساد کوي. يو ګډونکونکې د فساد په وړاندې د مبارزې په اړه وويل چې په ټوليزه توګه د قانون او د فساد په وړاندې د مبارزې په اړه عامه پوهاوی لوړ شي.



جليل پويا/ FES, MADPO, APPRO

**دويمه ستونزه: توکميز، ژبنې او مذهبې ليرې والې او تضاد**

د سياست توکميز کيدل يو له هغه مهمو لاملونو څخه دی چې په سيميزه او همدارنګه په ملي کچې د جګړې ډول اغيزمن کوي. د بيلګې په توګه:

*زمونږ په ټولنه کې توکميز وضعيت داسې جدي اوږخ نيولې دې چې کله کوم بل ولايت ته لاړ شو، نو وړاندې له دې چې ځان ورته افغان ور وپيژنو، نو ورته وايو چې مونږ له دې ولايت څخه راغلي يو او په دې توکم پورې اړه لرو. دا يو ناوړه دود دې چې زمونږ په ټولنې کې يې ريښې کړې دي او دا ډيره ستونزمنه ده چې له منځه يوړل شي. [...] راځئ چې يو ځای شو، يو بل ته لاس ورکړو او خپل هيواد جوړ کړو، پرته له دې به د سولې راوستل شونې نه وي. -لومړنې ښځينه ګډونکونکې، اکادميکه*

**يو پينليست زياتوي:**

*باور وکړئ، که سوله را هم شي، نو هغه به هم لنډمهاله وي. طالبان بايد لومړی له حکومت سره هوکړې ته ورسيږي او د ځواک شريکول ومني. له دې وروسته بيا هم، مونږ به په لنډ مهال کې امنيت او ټيکاو و نه ګورو. لامل يې دادی چې په تيرو شلو کلونو کې د هيواد په بيلابيلو برخو کې اختلافات را منځ ته شوې دي*

ددې ستونزې د حل لپاره، د ګروپ غړو وويل چې په سياسي سيستم کې يو لړ تدبيرونو ته اړتيا ده، لکه پوهنې او جوړښتيزو اصلاحاتو باندې کار وشي. په سيميزه توګه، ګډونکونکو دا يادونه وکړه چې د ښوونځې په سيستم کې بايد مدني پروګرامونه ځواکمن شي، اود توکميزو يا مذهبي هويت په ځای، په عمومي شتمنيو ډير تمرکز وشي. دوی همدارنګه وړانديز وکړ چې د توکميز او مذهبي هويت لپاره د سياسي ډلو استثمار په قانوني ډول منع او دغه قانون پلي شي، او ځواکمن قواعد را منځ ته کړي چې د توکم، مذهب اډلې په تړاو د ډلو جوړولو مخنيوی وکړي.

پداسې حال کې چې ګډونکونکو د افغانستان اسلامي جمهوريت حکومت د سياست توکميز کيدو په برخه کې تر ټولو لړ پر ګڼې، دوی همدارنګه داسې انګيري چې د حکومت ادارو دننه داسې وړتيا شته چې دغه توکميز ليروالې له منځه يوسي.

د نورو فعالينو په منځ کې چې يادونه يې شوې ده، مذهبي مشران او د پوهنتون پروفيسرانو ونډه په دې برخه کې مهمه وګڼل شوه.

**دريمه ستونزه: کمزورې اقتصاد**

بيوزلي او د کاري فرصتونو نشتون د جګړې لامل او همدارنګه د جګړې سرچينې وګڼل شوي. د لسيزو جګړو ځينې اغيزو او بې ځايه کيدنې ددې لامل شوې چې سيميزې د خړوبولو زيربناوې ړنګې شي، کله ناکله کرهنيز حاصلات له منځ تللي او د ليرد زيربناوې له منځه تللي

دي چې له امله يې بازار ته يې لاس رسی ناشوني کړې دي. طبيعي سرچينو او معيشت ته ستونزمن لاس رسی او په دوامداره طبيعي پيښې په سيمېزه کچه د ځمکو او د اوبو په سر د جګړو لامل ګرځيدلي دي. د جګړې او د اقليم بدلون اغيز، په کليوالو سيمو کې د طبيعي سرچينو د ناسم مديريت له امله د خاورې تخريب نور هم ژور کړې دي.

له دې امله د ګروپ غړو وويل چې داسې لارې چارې په ګوته شي چې په مرسته يې سرچينې مديريت شي او د ژوند ګډ چاپيريال يا ايکو سيستم وساتل شي او طبيعي پيښو سره تطابق را منځ ته شي، څو د لرو شته سرچينو د له منځه تللو څخه مخنيوې وشي او معيشت خوندي شي.

په نيمه ښاري ولايتي مرکزونو کې چې سوداګري او خدمتونه د سيميز معيشت برخه دي، ګډونکونکو وويل چې د بازار کار او دندې نشې کولاې چې د ورځ تر بلې لوستو او ورې ځوانانو اړتياوو ته -په ځانګړې توګه په باميان ولايت کې- ځواب ووايې:

*د باميانو په پوهنتون کې ګڼ شمير پوهنځې دي، څو کله چې زده کوونکي فارغ شې نو دندې نشې پيدا کولاې او اړ کيږي چې په کرهنيزو ځمکو کې کار وکړي. -نارينه ګډونکونکې ۱، مدنې ټولنه*

د دندو په تر لاسه کولو کې خپلوې پالل يو بل لامل وه چې د ځوانانو د مايوسي او ناهيلې لامل شوې دي.



جليل پويا/ FES, MADPO, APPRO

ګډونکونکو ويل چې يو ټيکاو لرونکې امنيتي وضعيت د بيوزلې او بې کارې لپاره لومړنې شرط دې. د امنيتي وضعيت ښه کيدل به ددې لامل شي چې د باميانو ولايت ځوان ګرځندوې (سياحت) سکټور نور هم ځواکمن کړي، د لاسي صنايعو توليدات به ډير کړي او په ولايت کې د وړيو تصديو کارونو ته به ټيکاو ورکړي. خو دوې ټول شکمن دي چې دغه ډول شرايط به په نږدې راتلونکې کې برابر شي.

ګډونکونکو همدارنګه ټينګار کاوه چې کله چيرې په دوحه کې د مذاکراتو په پاې کې نوې حکومت را منځ ته شي نو ديته اړتيا ده چې په هيواد کې پانګه اچونه د ملي اقتصاد د ځواکمنولو لپاره وشي څو د هيواد ملي پانګې ساتنه وشي او نورو هيوادونو ته لاړه نشي. دوې همدارنګه په چارواکو غږ وکړ چې د امنيت او پراختيا په سکټورونو کې د عامه لګښت تر منځ توازن برابر شي.

**څلورمه ستونزه: د هيواد په بيلابيلو سيمو کې د سرچينو نا انډوله ويش**

د ټولنيزو اختلافاتو يو لامل چې ګډونکونکو يې يادونه وکړه د هيواد په کچه د سرچينو نا انډوله ويش دې. ددې موضوع اغيز د ۲۰۱۶-۲۰۱۷ کال د روښنايې خوځښت پورې اړه لري، چې په دې خوځښت کې زرګونو تنو د هيواد څخه د بريښنا د ليږد اړونده مزو د غزيدو په اړه چې د لومړنې پلان له مخې له باميانو تيريده او بيا بدل شو، اعتراض وکړ.

ګډونکونکو همدارنګه نيوکه کوله چې ځينو ولايتونو د نورو په پرتله د لويديځې نړې له مرستې او د حکومت له پانګې اچونې څخه ډيره ګټه تر لاسه کړې ده. له دې امله دوې ټينګار کاوه چې حکومت او نور تمويل کوونکې داسې تدابير په پام کې ونيسي چې مرستې د اړتيا د ارزونې او انډوليزه توګه ورکړي او سياسي ملحوظات په پام کې ونه نيسي. ګډونکونکو همدارنګه غوښتنه وکړه چې د مدنې ټولنو او سياسي ډلو ونډه په ځانګړو مرستو او هڅو، د پارلمان او ولايتي چارواکو حساب ورکونې او د اتباعو د غږ اوچتولو په برخه کې پراخه شي.

## پایلې

د بامیان په ولایت کې د سیمه ییزې سولې د ناستې له بحثونو څخه څلورمهم ملاحظات تر لاسه کېداې شي.

لومړې، اقتصادي ملحوظات دي چې د ګډونکونکو ډېرې اندېښنې له ځان سره لري.

دغه اندېښنې د اقلیم د بدلون د خطرونو په اړه د پوهاوي سره یو ځای دي، ځکه چې طبیعي او اقلیمي پېښود کلیوالو ټولنو اقتصادي وضعیت نورهم زیانمونکي کړې دې. دغه وضعیت په ډایکندي او بامیان کې ډېر ښکاره دې، خو پروان ولایت هم اغیزمن شوې دې، چېرې چې د سیندونو د اوبو جریان کم شوې دی (او له املـه یې حاصلات کم شوي دي)، دغه وضعیت د خوړو خوندیتوب د ولایت څخه بهر هم اغیزمن کولاې شي، ځکه چې د اضافي حاصلاتو شتون او پلورل په کابل ښار باندې کموي (UNEP ۲۰۱٦).

جګړو هم په بامیانو ولایت کې سیمه ایز اقتصاد په مستقیمه توګه اغیزمن کړې دې، ځکه چې د ګرځندویانو یا سیلانیانو لاس رسی یې دي ولایت ته محدود کړې دې او د خدمتونو او لاسي صنایعو صنعت یې اغیزمن کړې دې، او د میدان وردګ ولایت کروندګر چې دخپلو ځمکو خړوبولوله ښه شرایطو څخه برخمن دي، ځمکو ته یې لاسرسی محدود دی.

له دې امله ګډونکونکي داسې انګیرې چې د جګړې بیرنې پاې ته رسول د اقتصادي وضعیت ښه کولو لپاره لومړیتوب لري: دا کار د تولید د بیا را منځ ته کولو سره به په لنډ مهال کې ګټې ولري، او د اوږد مهال لپاره خصوصي او عامه پانګې اچونې ته د پراختیا، اوږد مهالي اقتصادي او د سرچینو د مدیریت لپاره شرایط برابر کړي.

دویم لومړیتوب چې په دغه بحث کې په ګوته شو، زده کړې وې، او زده کړې د ټولنې د یوالې او همغږۍ او د هویت له امله بد بیلوالي د حل لپاره په اوږد مهال کې تر ټولو اغیزمن لار وګڼل شوه. همدارنګه زده کړې د هغه وګړو په وړاندې د مقاومت لپاره اغیزمنه لاره وګڼل شوه چې د اداری سیستم څخه ناوړه ګټه پورته کوي.

دریم، ګډونکونکو په پرتلیزه توګه د حکومت د جوړښت په وړتیا ډاډ څرګند کړ چې کولاې شي خپل ځانونه اصلاح کړي.

د کرهنې، اوبه لګولو او مالدارې، پوهنې، د کانونو او پترولیم، د حج او اوقافو، د ښځو چارو ولایتي ریاستونه کولاې شي چې د ټولنې په پراختیا کې مهمه ونډه واخلي، په دې شرط چې حکومت په امنیتي چارو لږ لګښت وکړي او پراختیایي چارو ته ډېرې سرچینې ځانګړې کړي.

پداسې حال کې چې ګډونکونکو د حکومتوالي په تیرو دوه لسیزو جوړښت د نه فعالیت په اړه جدي نیوکې وکړې، خو دوی بیا هم د دیموکراتیکو ادارو په ونډه کلک باور وښوده چې دغه اداري کولاې شي د سیمه ییزې سولې- د حکومتي استازو ادارو څخه د قضایي او عدلي ادارو، مدني ټولنو، مذهبي ادارو او رسنیو- د هڅو ملاتړ وکړي.

د ګروپ غړو او پینلیستانو غبږ وکړ چې ښاریان باید په مستقیمه توګه سره یو شي او حکومت دې حساب ورکونې ته مجبور کړي.

په پایله کې، د هیواد ټیکاو په ښکاره توګه په دوحه کې د روانو مذاکراتو په بریا پورې تړلي دي- دا بریا د جګړې اغیزمنې پاې او د حقوقو او حکومتوالی لپاره د واضح کاري چوکاټ جوړولو پورې تړلي دې. خو له بحثونو څخه دا څرګنده ده چې ګډون کوونکي د سولې د مذاکراتو د بریا په اړه ډېرې هیلې نلري. دوی په دې شکمن دي چې طالبان به کوم ډول مصلحت ته سر کیږدي، او خبرداری یې ورکړ چې په راتلونکي کې به د ټولنې یوالې له منځه لاړ شي، چې له امله به یې ځینې لاس ته راوړنې لکه د اتباعو حقوق، د مدنې فعالیتونو لاس ته راوړنې، معلوماتو او پوهې ته لاس رسی، د ښځو، ځوانانو او لږکیو حقوق له منځه لاړ شي. په دې اړوند په ټولنې کې جدي اندېښنې شتون لري چې نظري او د هویت توپیرونه به له منځه یوسي.

### تصديق

د پوښتې انځور د محمد عارف کريمي له خوا اخيستل شوی.

### قانوني يادونه او د مسؤليت نه منل

© د کاپي او نورو ټولو حقونو حق د APPRO، MADPO او FES موسسو لپاره خوندي دی.

د دې اثـر هېـڅ يـوه برخـه لـه APPRO (www.appro.org.af) موسســـې، MADPO (www.mediothek-afghanistan.org) او FES (www.afghanistan.fes.de) څخـه لـه ليکلـې اجـازې پرتـه، د بيا توليـد او د بيـا موندلـو پـه سيسـتم کـې د زېرمـه کولـو وړتيـا نـه لـري او اجازه نـه شـته چې پـه هـره بڼـه يـا د هـرې وسـيلې پـه کارولـو سره بـل ځـای تـه ولېږدول شي.

## سرچيني:


Afghanistan Food Security Cluster (FSC). (2018). Daikundi Province Fact Findings (Qualitative Assessment) Report – January 2018. 8 April 2018. Available at: https://fscluster.org/afghanistan/document/daykundi-qualitative-assessment-report

Al Jazeera (2016). Afghanistan: Who are the Hazara's?  Features, Taliban. 27 June. Available at: https://www.aljazeera.com/features/2016/6/27/afghanistan-who-are-the-hazaras

Basharat, Hakim. (2017). More than 200,000 tourists visit Bamyan this year. Pajhkwok Afghan News.3 Septem-/ber. Available at: https://pajhwok.com/2017/09/03/more-200000-tourists-visit-bamyan-year

Bjelica, Jelena (2020). New World Drug Report: Opium Production in Afghanistan remained the same in 2019. Economy, Development, Environment. Afghanistan Analysts Network (AAN). 25 June. Available at https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/economy-development-environment/new-world-drug-report-opium-produc-/tion-in-afghanistan-remained-the-same-in-2019

Byrd, William A. and Noorani, Jawad (2017). Industrial Scale Looting of Afghanistan's Mineral Resources. Unit-.(ed States Institute of Peace Special Report 404. Kabul: United States Institute for Peace (USIP

Human Rights Watch (HRW). (2019). "They've Shot Many Like This". Abusive Night Raids by CIA-Backed Afghan Strike Forces. 31 October. Available at:  https://www.hrw.org/report/2019/10/31/theyve-shot-many/abusive-night-raids-cia-backed-afghan-strike-forces

Islamic Republic of Afghanistan, Central Statistics Organization (CSO). (2018). Afghanistan Living Conditions .Survey 2016-17. Kabul: CSO

Foschini, Fabrizio (2013). The Social Wandering of the Afghan Kuchis. Changing patterns, perceptions and politics of an Afghan community. Kabul: Afghanistan Analysts Network. Available at: https://www.afghanistan-analysts.org/wp-content/uploads/2013/11/20131125_FFoschini-Kuchis.pdf

Ghafari, Hadi (2014). Mineral resources of Daikundi province. Pajhwok Afghan News. 3 February. Available at: https://mines.pajhwok.com/news/mineral-resources-daikundi-province

Giustozzi, Antonio (2017). Mapping nomad-farmer conflict in Afghanistan. Afghanistan Research and Evaluation Unit (AREU). Available at:  https://www.ecoi.net/en/file/local/1404589/1226_1500886126_1714e-mapping-nomad-farmer-conflict-in-afghanistan.pdf

Goodhand, J. and Hakimi, A. (2014). Counterinsurgency, local militias, and statebuilding in Afghanistan. Kabul: United States Institute of Peace (USIP). Available at: https://www.usip.org/sites/default/files/PW90-Counterinsurgency-Local-Militias-and-Statebuilding-in-Afghanistan.pdf

International Organization for Migration (IOM). (2021). BMA R11 – Afghanistan – Baseline Mobility Assessment Summary Results (July – December 2020). Flow Monitoring. 2 May. Available at:  https://migration.iom.int/reports/bma-r11-—-afghanistan-—-baseline-mobility-assessment-summary-results-july—december-2020

Islamic Republic of Afghanistan. Central Statistics Organization (CSO) and United Nations Populations Fund (UNFPA) (2019). Socio-Demographic and Economic Survey Bamiyan. Kabul. 3 April. Available at: https://www.nsia.gov.af:8080/wp-content/uploads/2019/04/SOCIO-DEMOGRAPHIC-AND-ECONOMIC-SURVEY-PROVINCE-OF-BAMIAN.pdf

Islamic Republic of Afghanistan. Ministry of Rural Rehabilitation and Development (MRRD). (2020). National Area Based Development Program. Parwan Provincial Profile. Available at: https://web.archive.org/web/20160304201026/http:/www.mrrd-nabdp.org/attachments/article/249/Parwan%20Provincial%20Profile.pdf

Islamic Republic of Afghanistan. National Statistics and Information Authority (NSIA). (2021). Afghanistan Statistical Yearbook 2020. Issue No: 42. Available at: https://www.nsia.gov.af:8080/wp-content/uploads/2021/04/Afghanistan-Statistical-Yearbook-first-Version.pdf

Osman, Borhan (2019). Intensifying Violence Dulls Afghans' Hopes for Peace. International Crisis Group (ICG). 5 July. Available at: https://www.crisisgroup.org/asia/south-asia/afghanistan/rural-afghanistans-lost-feeling-imminent-peace

Pajhwok Afghan News. (2019). Political Parties are seen as a source of insecurity in Daikundi. Pajhwok Reporter. /14 April. Available at: https://pajhwok.com/2019/04/14/political-parties-seen-source-insecurity-daikundi

Qazizai, Fazeminallah (2019). In the line of fire: Wardak residents struggle to stay afloat in Afghanistan. Arab News. June 23. Available at: https://www.arabnews.com/node/1514761/world

Roggio, Bill (2021). Mapping Taliban Contested and Controlled Districts in Afghanistan. Long War Journal (LWJ). Available at: https://www.longwarjournal.org/mapping-taliban-control-in-afghanistan

Ruttig, Thomas (2011). Ghorband – A Valley Once Friendly. Reports. War and Peace. Afghanistan Analysts Network (AAN). 19 July. Available at https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/war-and-peace/ghorband-a-/valley-once-friendly

Reporterly. (2019). Security Incidents Mount in Daikundi; Why has the Secured Province Faced Insecurity? Nazari, F. 11 July 2019. Available at http://reporterly.net/narratives/security-incidents-mount-in-daikun-/di-why-has-the-secured-province-faces-insecurity

United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA). (2017). Bamyan Religious Scholars gather to discuss Peacebuilding in Afghanistan. 20 November 2017. Available at https://unama.unmissions.org/bamyan-religious-scholars-gather-discuss-peace-building-afghanistan

United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), and United Nations Human Rights Office of the High Commissioner (UNHCR) (2021). Afghanistan: Protection of Civilians in Armed Conflict. Annual Report .2020. February 2021. Kabul, Afghanistan

United Nations Development Programme (UNDP). (2020). Pitfalls and Promise: Minerals Extraction in Afghanistan. Afghanistan Human Development Report 2020. Available at https://www.af.undp.org/content/afghanistan/en/home/library/human_development/NHDR-2020.html

United Nations Environment Programme (UNEP) (2016). Climate change in Afghanistan. What Does it Mean for Rural Livelihoods and Food Security? November 2016. Available at https://postconflict.unep.ch/publications/Afghanistan/Afg_CC_RuralLivelihoodsFoodSecurity_Nov2016.pdf

United Nations Organization for the Coordination of Humanitarian Affairs (OCHA). (2019). Afghanistan: Weekly Humanitarian Update (9-15 September 2019). September 15, 2019. Available at https://reliefweb.int/sites/reliefweb.int/files/resources/afghanistan_humanitarian_weekly-15_september_2019.pdf

United Nations Security Council (UNSC). (2020). Letter dated 19 May 2020 from the Chair of the Security Council Committee established pursuant to resolution 1988 (2011) addressed to the President of the Security Council. UN Doc. S/2020/415. 27 May 2020. Available at https://documents-dds-ny.un.org/doc/UNDOC/GEN/N20/110/60/PDF/N2011060.pdf?OpenElement

United Nations Secretary General (UNSG) (2020). The situation in Afghanistan and its implications for international peace and security. UN Doc. A/74/897-S/2020/549. June 17, 2020. https://unama.unmissions.org/sites/default/files/sg_report_on_afghanistan_june_2020.pdf